رئاسة الشؤون الدينية
بالمسجد الحرام والمسجد النبوي

فَضْلُ عَشْرِ ذِي الحِجَّةِ | بشتو | پښتو

# د ذي الحجې د لسيزې فضيلت

د مسجد الحرام او مسجد نبوي
د ديني چارو د رياست تر مشرۍ لاندې علمي کمېټه

# فَضْلُ عَشْرِ ذِى الحِجَّةِ

# د ذي الحجې د لسيزې فضيلت

اللَّجْنَةُ العِلْمِيَّةُ

بِرِئَاسَةِ الشُّؤُونِ الدِّينِيَّةِ بِالمَسْجِدِ الحَرَامِ وَالمَسْجِدِ النَّبَوِيِّ

د مسجد الحرام او مسجد نبوي د ديني چارو د رياست تر
مشرۍ لاندې علمي کمېټه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحمَنِ الرَّحِيمِ

## د ذي الحجې د لسيزې فضيلت

### سريزه

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على المبعوث رحمة للعالمين، وعلى آله وصحبه ومن استنَّ بسنته، واهتدى بهديه إلى يوم الدين، أما بعد:

دا لنډ پيغام دی چې د مسلمان لپاره پکې د ذی الحجې د لسو ورځو فضيلت اړوند تر ټولو ضروري مسايل بيان شوي دي، موږ دا د حرمينو شريفينو زيارت کوونکو ته راټول کړي، تر څو د خپل دين په اړه پوهه او بصيرت ولري، له کريم او منان ذات څخه هيله لرو چې دغه پيغام ګټور، نېک او د خپلې خوښې لامل وګرځوي، بېشکه هغه تر ټولو غوره ذات دی چې سوال ترې کيږي او تر ټولو سخي ذات دي چې هيله ترې کيږي.

د ژبو په برخه کې د اسلامي محتوا د خدماتو د ټولنې علمي کمېټه

***

## د ذي الحجې د لسيزې فضيلتونه:

د ذو الحجې (لومړۍ) لسيزه ستر فضيلت لري، الله تعالى په خپل کتاب او رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپل سنت کې د دې ورځو فضيلت بيان کړی دی، دا هغه ورځې دي چې الله تعالى پرې په خپل کتاب کې پدې وينا سره سوګند ياد کړی دی:

﴿وَٱلۡفَجۡرِ ۝١ وَلَيَالٍ عَشۡرٖ ۝٢﴾

قسم دی په فجر (سبا) باندې.

او په لسو شپو. [الفجر: ١-٢]، د ابن عباس، ابن الزبير، مجاهد، ابن کثير، ابن القيم او نورو سلفو او خلفو علماوو په وينا دا د ذو الحجې لس ورځې دي.[١]

دا هغه ورځې دي چې پدې کې د عمل فضيلت د الله تعالى په لار کې له جهاد څخه هم غوره دی، دليل يې د ابن عباس رضي الله عنهما حديث دی چې فرمايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

«مَا مِنْ أَيَّامٍ الْعَمَلُ الصَّالِحُ فِيهِنَّ أَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنْ هَذِهِ الْأَيَّامِ الْعَشَرِ»، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ! وَلَا الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَلَا الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ، إِلَّا رَجُلٌ خَرَجَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فَلَمْ يَرْجِعْ مِنْ ذَٰلِكَ بِشَيْءٍ».

[١] تفسير ابن کثير (٤/ ١٠٦)، او زاد المعاد (١/ ٥٦).

"داسې ورځې نشته چې نېک عمل پکې الله تعالی ته د دې لسو ورځو څخه ډیر محبوب وي"، صحابه وو رضي الله عنهم وویل: "ای د الله رسوله! حتی د الله په لار کې جهاد هم؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "هو، حتی د الله په لاره کې جهاد هم، مګر هغه سړی چې له خپل ځان او مال سره جهاد ته ووځي او هېڅ شی بېرته رانه وړي"[1].

## د ذی الحجې په لسیزه کې د اعمالو فضلیتونه:

۱- حج او عمره ادا کول:

دا د دې لسو ورځو تر ټولو غوره عمل دی، د نبي صلی الله علیه وسلم د دې وینا پر اساس:

«مَن حَجَّ هَذَا الْبَيْتِ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ كَيَوْمٍ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ».

«څوک چې د دې کور (بیت الله) حج وکړي، او له جماع (شهواني عمل) او هر فسق څخه ځان وساتي، نو له حج څخه د راګرځېدو پر مهال به له ګناه څخه داسې پاک شي لکه په کومه ورځ چې مور زیږولی وي». او د مسلم په لفظ کې (راځي):

«مَن أَتَى هَذَا الْبَيْتِ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ؛ رَجَعَ كَيَوْمٍ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ».

«څوک چې دې کور (بیت الله) ته راشي، او له جماع

[1] بخاري او ترمذي روایت کړي، او لفظ د هغه دی.

(شهواني عمل) او فسق (ګناهونو) څخه ځان وساتي، نو له حج څخه د راګرځېدو پر مهال به له ګناه څخه داسې پاک شي لکه په کومه ورځ چې مور زېږولی وي»[1]. د هغه دا وينا: (څوک چې د الله لپاره حج وکړي) الحمد لله په عمومي مفهوم کې حج او عمره دواړه شامليږي. او هغه صلی الله علیه وسلم فرمايلي:

«الْعُمْرَةُ إِلَى الْعُمْرَةِ كَفَّارَةٌ لِمَا بَيْنَهُمَا، وَالْحَجُّ الْمَبْرُورُ لَيْسَ لَهُ جَزَاءٌ إِلَّا الْجَنَّةُ».

«يوه عمره تر بلې عمرې پورې د دواړو تر منځ د ګناهونو کفاره ده، او د قبول شوي حج بدله يوازې جنت دی»[2].

۲- د دې لسو ورځو (يا څومره ورځې چې شوني وي) روژه نيول: د نبي صلی الله عليه وسلم د دې وينا پر اساس:

«مَا مِنْ أَيَّامٍ الْعَمَلُ الصَّالِحُ فِيهِنَّ أَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنْ هَذِهِ الْأَيَّامِ الْعَشَرِ»،

"هېڅ داسې ورځې نشته چې په هغو کې صالح عمل الله تعالی ته د دې لسو ورځو څخه ډېر محبوب وي" او روژه د صالحو اعمالو له ډلې يو ستر عمل دی او نبي صلی الله عليه وسلم د روژې په نيولو ټينګار کړی او خلک يې ورته هڅولي دي، له هغو څخه د هغه صلی الله عليه وسلم دغه وينا ده چې

---

[1] بخاري او مسلم روايت کړي.
[2] بخاري او مسلم روايت کړي.

فرمايي:

«مَا مِنْ عَبْدٍ يَصُومُ يَوْمًا فِي سَبِيلِ اللهِ إِلَّا بَاعَدَ اللهُ بِذَلِكَ الْيَوْمِ وَجْهَهُ عَنِ النَّارِ سَبْعِينَ خَرِيفًا».

"هېڅ بنده نشته چې د الله په لار کې يوه ورځ روژه ونيسي، مګر دا چې په دې ورځ به الله د هغه مخ د اويا کلونو په اندازه له اور څخه لرې کړي"[1].

٣- قرباني د نحر (قربانۍ)په ورځ او د تشريق په ورځو کې مشروع ده، او له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه ثابت دي چې:

«ضَحَّى بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ، أَقْرَنَيْنِ، ذَبَحَهُمَا بِيَدِهِ، وَسَمَّى وَكَبَّرَ وَوَضَعَ رِجْلَهُ عَلَى صِفَاحِهِمَا».

«رسول الله صلى الله عليه وسلم دوه سپين بنکرور پسونه قرباني کړل، په خپل لاس يې حلال کړل، بسم الله او الله اکبر يې پرې وويل، او خپله پښه يې د هغوی دواړو په ورمېږونو کېښودله»[2].

او له عايشې رضي الله عنها څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

«مَا عَمِلَ ابْنُ آدَمَ مِنْ عَمَلٍ يَوْمَ النَّحْرِ أَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنْ إِهْرَاقِ

---

[1] بخاري او مسلم روايت کړي.
[2] بخاري او مسلم روايت کړي.

الدَّمِ، وَإِنَّهُ لَيُؤْتَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِقُرُونِهَا وَأَشْعَارِهَا وَأَظْلافِهَا، وَإِنَّ الدَّمَ لَيَقَعُ مِنَ اللهِ بِمَكَانٍ قَبْلَ أَنْ يَقَعَ فِي الْأَرْضِ، فَطَيِّبُوا بِهَا نَفْسًا».

"د قربانۍ په ورځ د بني آدم هيڅ عمل الله تعالی ته د وينې له بهېدو (قرباني) څخه ډېر محبوب نه دی، د قيامت په ورځ به څاروی له خپلو ښکرونو، وېښتانو او نوکانو سره راوړل شي، او د هغوی وينه به پر ځمکه له بهېدو وړاندې د الله تعالی پر وړاندې ومنل شي، نو دا کار د زړه په خوښۍ سره وکړئ او پرې خوشحاله شئ»[1].

کله چې د ذو الحجې لس ورځې راورسېږي؛ نو هغه څوک چې قرباني کوي، خپل وېښتان او نوکان دې نه اخلي؛ د ام سلمې رضي الله عنها د حديث له مخې چې نبي صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

«إِذَا رَأَيْتُمْ هِلَالَ ذِي الْحِجَّةِ وَأَرَادَ أَحَدُكُمْ أَنْ يُضَحِّيَ؛ فَلْيُمْسِكْ عَنْ شَعْرِهِ وَأَظْفَارِهِ».

«کله چې تاسو د ذو الحجې مياشت (هلال) وليد او تاسو کې چا غوښتل چې قرباني وکړي؛ نو خپل نوکان او وېښتان دې نه اخلي». او په بل لفظ کې (راځي):

«... فَلَا يَأْخُذَنَّ مِنْ شَعْرِهِ وَلَا مِنْ أَظْفَارِهِ شَيْئًا حَتَّى يُضَحِّيَ».

«... له خپلو وېښتانو او نوکانو څخه دې نه اخلي ترڅو

---

[1] ترمذي روايت کړی.

چې قرباني وکړي»[1].
۴. په دې لسو ورځو او د تشریق په ورځو کې تکبیر (الله اکبر)، تهلیل (لا اله إلا الله) ویل او ذکر کول؛ د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما د حدیث له مخې چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«مَا مِنْ أَيَّامٍ أَعْظَمَ عِندَ اللهِ وَلَا أَحَبُّ إِلَيْهِ مِنَ الْعَمَلِ فِيهِنَّ مِنْ هَذِهِ الْأَيَّامِ الْعَشَرِ، فَأَكْثِرُوا فِيهِنَّ: مِنَ التَّهْلِيلِ، وَالتَّكْبِيرِ، وَالتَّحْمِيدِ».

«د الله تعالی په نزد له دې لسو ورځو څخه ډېرې عظیمې او د عمل له پلوه ډېرې محبوبې ورځې نشته، نو په دې ورځو کې ډېر (تهلیل - لا اله الا الله)، تکبیر (الله اکبر) او تحمید (الحمد لله) ووایئ»[2].

تکبیر دوه قسمه او په لاندې ډول دي:

لومړی قسم: مطلق تکبیر، دا هغه تکبیر دی چې د لمونځونو پسې وخت پورې مقید نه دی؛ بلکې په هر وخت کې مشروع دی.

مطلق تکبیر د ذو الحجې له لومړی ورځې څخه پیلیږي او د تشریق د ورځو تر آخره پورې وي: په ټولو وختونو کې، په شپه او ورځ، لارو، بازارونو، مسجدونو، کورونو، او په هر هغه ځای کې چې د الله تعالی ذکر جایز وي.

---

[1] مسلم روایت کړی.
[2] احمد روایت کړی.

دويم قسم: مقيد تکبير: هغه تکبيرونه دي چې په ځانګړي توګه په لوی اختر کې د فرض لمونځونو پسې وخت پورې مقيد وي، وخت او طريقه يې په لاندې ډول ده:

لومړی: مقيد تکبير د عرفې په ورځ د سهار له لمانځه وروسته پيلېږي او د تشريق په دريمه ورځ د مازديګر له لمانځه وروسته پای ته رسيږي. دا د هغو کسانو لپاره دی چې حج نه کوي، خو د حاجي لپاره، مقيد تکبير د قربانۍ د ورځې له غرمې وروسته پيلېږي.

دويم: د تکبير ويلو طريقه: (اللَّه أكبر، اللَّه أكبر، لا إله إلا اللَّه، واللَّه أكبر اللَّه أكبر ولله الحمد)[١].

۵. څوک چې په حج کې نه وي بايد د اختر لمانځه ته تېينګه پاملرنه وکړي، وختي ووځي او خطبه واوري؛ ځکه دا د اسلام له سترو شعيرو څخه يوه ده؛ د دې شعيرې د ستروالي له امله، ښځو ته امر شوی چې د لمانځه ادا کولو ته ووځي، آن پيغلې او حيض لرونکې ښځې هم له کورونو څخه ووځي؛ له ام عطيه رضی الله عنها څخه روايت دی وايي چې:

«كُنَّا نُؤْمَرُ أَنْ نَخْرُجَ يَوْمَ الْعِيدِ حَتَّى نَخْرُجَ الْبِكْرَ مِنْ خِدْرِهَا، حَتَّى نُخْرِجَ الْحُيَّضَ فَيَكُنَّ خَلْفَ النَّاسِ، فَيُكَبِّرْنَ بِتَكْبِيرِهِمْ، وَيَدْعُونَ بِدَعَائِهِمْ، وَيَرْجُونَ بَرَكَةَ ذَٰلِكَ الْيَوْمِ وَطَهَارَتِهِ».

"موږ ته به امر کېده چې د اختر په ورځ ووځو، حتى

---

[١] وګورئ: المغني لابن قدامة (٣/ ٢٩٠)، او: الشرح الكبير مع المقنع او: الإنصاف (٥/ ٣٨٠).

باکره پېغلې له خپلو خونو څخه او حیض لرونکې ښځې هم راوباسو، ترڅو د خلکو تر شا ودرېږي او د دوی له تکبیرونو سره تکبیر ووايي، او له دعا سره يې دعا وکړي او د دې ورځې د برکت او پاکيزګۍ هيله ولري". او په بل لفظ کې راځي:

«وَأَمَرَ الْحُيَّضَ أَنْ يَعْتَزِلْنَ مُصَلَّىٰ الْمُسْلِمِينَ».

"او حیض لرونکو ښځو ته يې امر وکړ چې د مسلمانانو د لمانځه له ځای څخه لرې پاتې شي"[1].

۶. د ډېرو نيکو اعمالو ترسره کول، د نفلي عبادتونو په شمول لکه لمونځ، صدقه، د قرآن کريم تلاوت، په نيکيو امر او له بديو څخه منع کول، له ګاونډيانو سره احسان او نيکي، د کورنۍ اړيکې ساتل او همدارنګه نور نيک کارونه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د عمومي وينا پر اساس (چې فرمايي):

«مَا مِنْ أَيَّامٍ الْعَمَلُ الصَّالِحُ فِيهِنَّ أَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنْ هَذِهِ الْأَيَّامِ الْعَشَرِ»، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ! وَلا الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَلا الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ، إِلَّا رَجُلٌ خَرَجَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فَلَمْ يَرْجِعْ مِنْ ذَٰلِكَ بِشَيْءٍ».

"داسې ورځې نشته چې په هغو کې صالح عمل الله تعالی ته د دې لسو ورځو څخه ډېر محبوب وي"، صحابه کرامو رضي الله عنهم وويل: "ای د الله رسول! ايا حتی د الله په لاره

---

[1] بخاري او مسلم روايت کړي.

کې جهاد هم؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "هو، حتی د الله په لاره کې جهاد هم، مګر هغه سړی چې له خپل ځان او مال سره جهاد ته ووځي او هېڅ شی بېرته رانه وي"[1].

له الله تعالی څخه غواړو چې څه مو زده کړل هغه راته ګټور وګرځوي او هغه څه را زده کړي چې ګټور وي؛ بېشکه هغه سخي او کریم ذات دی، وصلی الله وسلم علی نبینا محمد و علی آله وسلم تسلیماً کثیرًا.

***

[1] بخاري او ترمذي روایت کړي، او الفاظ د هغه دی.

فهرست

د ذي الحجې د لسيزې فضيلت.......................................... ۲
سريزه............................................................................ ۲
د ذي الحجې د لسيزي فضيلتونه: ....................................... ۳
د ذی الحجې په لسيزه کې د اعمالو فضليتونه: ....................... ٤

❋❋❋

رئاسة الشؤون الدينية
بالمسجد الحرام والمسجد النبوي

# رسالة الحرمين

## د حرمين پیغام

د مسجد الحرام او مسجد نبوي زيارت کونکو لپاره لارښود
مواد په ژبو کې